.

# خلک او وګړي څه توپير سره لري ؟

نورالحق نبی زاده "څلی"                                                ۲۰۲۴/۰۷/۲۵

د ټولنې د ودې د پړاونو راسپړنه دا رازده کوي، چې  خېل (ټبر) پوهنه« Ethnosocialogy  » د ټولنپوهنې اړوند يوه خپلواکه څانګه ده. ټولنپوهنه بشپړه ټولنه څېړي، «خېل پوهنه» بيا دا څېړي، چې خېلونه (اتنوګرافيکي واحدونه) څرنګه ژوند کوي، د خپلوی اړيکي او ټولنيز جوړښت يې څرنګه دی.« خېل پوهنه» په بېلابېلو خېلونو(اتنوګرافيکي واحدونو) او ټولنيزو ګروپونو کې ټولنيزې پروسې او پېدېدې څېړي. پر دې سربېره، «خېل پوهنه» دا هم څېړي، چې بشري ټولنې له بدوي خېلونو څخه څرنګه تر اوسنيو پېچليو ټولنيزو سيستمونو پورې را رسېدلې دي او د ودې په کومو پړاونو کې له کومو بدلونونو سره مخامخ شوي دي او يا مخامخېږي .

داسې هم ويلی شو، چې «خېل پوهنه» د ټولنو او ټولنيزو سيستمونو بدلون څېړي. د ټولنې د تاريخي ودې په اړه د« خېل پوهنې» څرګندونې دا رابنيي، چې ټولنه له يوه بدوي خېل  اتنوګرافيک واحد ( Ethnos )  څخه خپله وده پيل کوي، په ترتيب سره تر« خلکو»، « ملت» او « مدني ټولنې» پورې رسېږي.

خېل ( Ethnos )بدوي ټولنه ده او يواځينی بېلوونکي نښه يې دا ده، چې دله ييز  هويت لري، لکه: بزګري او چوپاني ټولنه. په خېل کې ټولنيز وېش نشته. خلک«People » بيا يو داسې اتنوګرافيک واحد وي، چې په تاريخ کې يې د پښو لار پاتې وي. ښکاره خبره ده، چې خلک هغه وخت تاريخ ته ننوځي او د پښو پل يې پاتې کېږي، چې خپل فرهنګ يې پنځولی وي. خپل دين (مذهب)، رسم الخط او تاريخ ليکل ولري. تر ټولو مهمه دا چې خپل دولت يې جوړ کړی وي.

ملت  « Nation »  بيا په بورژوازي ټولنه کې راټوکېږي .

دا د هرې ټولنې څانګړنه ده، چې د ټولنې هر غړی د خپلو شخصي مسئلو او ستونزو د لېرې کولو او غوښولو په هڅون و خوځون کې سرګردانه وي. هر يو هڅه کوي، چې ژوند يې لا ښه شي او يو څه مادي شتمني تر لاسه کړي .

په عادي حالاتو کې د ټولنې غړي کېدای شي « وګړي» او يا «خلک» وبولو. دغه د ټولنې دواړه جوړوونکي برخې څنګ په څنګ ژوند کوي او يو په بل کې پټ او ورک دي. په عادي حالت کې دا ناشونې ده چې وواېو، څوک په خلکو او څوک په وګړو کې راځي. د وګړو او خلکو په چال چلن کې هغه مهال څرګند توپير راڅرګندېږي، کله چې ټولنه تر ښکېلاک او يا پردي نيواک لاندې راشي، يا داسې څه پېښ شي چې يوه ټولنه د بېلا بېلو لاملونو له کبله په يوه بل لوی چوکاټ کې واوډله شي، د بېلګې په توګه لکه چې برتانوي استعمار پښتانه او بلوڅان په پاکستان کې واوډل. په داسې حالاتو کې د ټولنې اصلي هويت ته زيان رسېږي. دغه وضعيت ته د ټولنې غړي خامخا غبرګون ښيي، ځينې د خپل اصلي هويت لپاره درېږي، يو شمېر نور بيا دغه نوي رامنځته شوي وضعيت ته د خپلو شخصي ګټو له کونج څخه ګوري. که چېرې ورته ګټور وي او امتيازات ولري ملاتړ يې کوي.

د دې لپاره چې خبرې رالنډې کړو بايد زياته کړو، چې د وګړو او خلکو ترمنځ د توپير په موندلو کې له موږ سره دا فکتور ډېره مرسته کوي، چې د ښکېلاک، پردي اشغال او  هغه مهال چې يوه ټولنه په يوه لوی چوکاټ کې واوډله شي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ټولنې غړي خپل لومړيتوبونه، ګټې او ارزښتونه د کوم معيار پر بنسټ ټاکي ؟ د يوې قاعدې په توګه، د ښکېلاک او پردي اشغال په وخت کې د « وګړو» لپاره د تل په شان د دوی خپلې ګټې وټې، خپل ترلاسه کړي امتيازات او له مزو چړچو ډک ژوند لومړيتوب لري. د خپلو همدې لومړيتوبونو لپاره ان چمتو دي ټول ملي ارزښتونو تر پښو لاندې کړي او ان ځاني قرباني هم ورکړي. همدا لامل دی چې وګړي تل او هر چېرې نه يوازې د ښکېلاکګرو او نيواکګرو هملاري او اردليان وي، پر دې سربېره د هغوی ( ښکېلاکګرو او نيواکګرو) فرهنګي استازولي هم کوي. د نړيوال تاريخ له پاڼو څخه پوهېږو، چې استعمار په هر نوم او پلمه ولسونه لاندې کړي وي کورني هملاسو ( وګړو ) يې هم هماغه ډنډوري غږولي دي. له يادولو پرته روښانه ده چې هر ښکېلاک او نيواک بيا له خپل ټول ځواک سره له همدې وګړو څخه ملاتړ کوي.

»خلک » سره له دې چې دمخه له وګړو سره ګډ او يو په بل کې پټ وو، بيا دې ته لومړيتوب ورکوي، چې ملي هويت او شتون يې په تاريخ کې وساتل شي، نو ځکه د ښکېلاک او پردي نيواک په وړاندې درېږي. ان چمتو دي په دې لار کې خپل سرونه او هر څه قربان کړي. خلک تل او هر چېرې د ښکېلاکګرو او نيواکګرو په ضد وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ